# د جزايي دعوې مرورالزمان په اسلامي فقه او د افغانستان په حقوقي سیستم کې

[۱*]نامزد پوهنیار صفي الله سنګروال، اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لغمان پوهنتون

[۲]پوهنمل علي احمد بهار، ننګرهار پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

**لنډیز**

په جزايي دعوی کې د مرورالزمان د اثارو څخه هدف دا دې چې کله یوه جزايي موضوع چې د عامه مصالحو د تأمین په موخه وي یوه موده تیره شي چې هغه موده به د حاکم یا د هغه د نائب له خوا د دعوی د اوریدو له پاره ټاکل شوې وي چې د یادې مودې له تېرېدو وروسته بیا دعوی قضاءً نه اویدل کیږي. د انسانانو ترمنځ د نفسي غوښتنو، خواهشاتو او یا هم اشتباهاتو په اساس جنجالونه رامنځ ته کیږي چې په پایله کې جزايي موضوعات رامنځ ته کیږي مثلاً یو کس قتل، زنا ، غلا وغیره جرایم ترسره کوي چې د قضاء په وړاندې یي عمل کونکی مجرم او د جزاء مرتکب دی خو د دې له پاره چې په قضاء باندې مسائل زیات نشي، د مسائلو په اثبات کې ستونزې پیدا کیږي نو په دی برخه کې د شریعت او وضعي قوانینو په اساس مصحلتاً یوه موده ټاکل کیږي چې شخص باید دعوی اقامه کړي که په یاده موده کې یي اقامه نه کړي نو له هغې وروسته د حاکم یا د خلیفه د حکم نه بغیر قضاء نه شي کولای چې دعوی یي واوري، د دې موضوع اهمیت په دې کې دی چې د ټولنې خلکو او محاکمو ته روښانه شي چې خپلې دعواوې په معین وخت کې اقامه کړي ، داچې اوس زموږ په هیواد کې الحمدلله بشپړ اسلامي نظام شتون لري او قضاء هم د دېنظام یوه برخه ده نو په کار ده چې دا موضوع د اسلامي او حقوقي پلوه وڅېړل شي ترڅو د قضاتو او د هغوې د کارمندانو او د ټولنې خلکو له پاره یوه

روښانه شرعي او حقوقي لاره څرګند شي، د دې لیکنې په نتیجه کې به د اسلامي شریعت او د افغانستان د حقوقي سیستم په اساس یوه څرګنده تګلاره روښانه شي.

**کلیدي کلیمي:** جزایي دعوی ، مرورزمان ، اسلامي فقه، د افغانستان حقوقي سیستم

## سریزه

الحمد لله رب العالمین وصلی علی سید المرسلین، سیدنا محمد الصادق الأمین وعلی آله وصحبه وسلم اما بعد : الله جل جلاله انسانانو ته مالي او معنوي حقوق ورکړي دي بیا یی د دې مالونو د لګښت ځایونه او د ساتنې اصول هم ښودلي دي همدا ډول انسانان یي د دې نه منع کړي دي چې د بل شخص په حق باندې تیری وکړي، لیکن کله کله د نفسي خواهشاتو او غوښتنو په اساس انسان د بل په حق تیری کوي یا هم جرایم ترسره کوي، چې په مقابل کې یي اسلامي شریعت د حق خاوند ته دا حق ورکړی دی، چې له قضاتو یي غوښتنه وکړي څو عدالت تأمین شي، خو د دې په خاطر، چې قضاتو باندې موضوعات ډیر نه شي دا ډول دعوې په خپل وخت اقامه او حق حقدار ته وسپارل شي، نو په اسلامي فقه او د افغانستان قوانینو کې د جزایي دعوی له پاره موده ټاکل شوې ده چې په همدې موضوع کې پرې بحث کیږي.

## د موضوع اهمیت

انسانانو د خپلو نفسي غوښتنو په اساس ثابته کړې ده چې له تاریخي پلوه یي په مختلفووختونو کې مختلف جرایم ترسره کړي دي لیکن اسلامي شریعت او د بشر په لاس جوړو شویو اصولو همېشه د جرایمو د مخنیوې له پاره داسې اصول ټاکلي چې خلك له جرایمو منع شي؛ خو کله چې یوه جزایی موضوع رامنځ ته کیږي؛ نو کله کله دا پوښتنه هم پیدا کیږي چې دا موضوع باید په څومره وخت کې حل وفصل شي چې د دې موضوع په لیکنې سره به د اسلامي شریعت او افغاني قوانینو دریځ روښانه شي او

قضايي او عدلي ارګانونه او د ټولنې خلکو ته به ښکاره شي چې کومې جزايي دعواوې په کوم وخت کې اقامه کولای شي.

همدا ډول په ټولنه کې دوه ډوله نظريې شتون لري، ځینې خلك فکر کوي، چې وضع شوي قوانين د اسلامي فقهې سره برابرنه دي او ځینې بيا قوانين په ماده وار شکل فقه بولي چې په ذکر شوې موضوع کې دا هم روښانه کيږي چې د اسلامي فقهې اړخ له قوانينو سره په ياده موضوع کې برابر دی که نه؟

**د موضوع هدف**

د جزايي دعوې مرور زمان ترسرليك لاندې موضوع د لاندې اهدافو له پاره ليکل کيږي:

۱. قضايي او عدلي برخې ته د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو دريځ روښانه کول څو په جزايي موضوعاتوکې د اسلامي شريعت د احکامو مطابق عدالت تأمين شي.
۲. د افغانستان د قوانينو تأصيل پکې څرګند کيږي کومې برخې چې د اسلامي شريعت سره برابرې نه وي په ځای يي داسې احکام او اصول وضع کول څو اسلامي شرعي قوانين ولرو.

**د څيړنې پوښتنې**

۱. په حدودو او قصاص جرايمو مرورزمان اغېزلري کنه؟
۲. په هغه جرايمو کې چې د تعزيري جزاګانو مستوجب دي د مرورزمان اغېزد اسلامي فقهې او افغانستان حقوقي نظام له نظره څه ډول دی؟
۳. د مرورزمان تاثيرات په جرايمو څه ډول دي او په جزاګانو څه ډول دي؟
۴. په جزايي دعواوو د مرورزمان تاثيرات معقوله ، مفيده او د مصلحت لاره ده او کنه؟

## د څېړنې ستونزه

مرورزمان یا هم د یوې معلومې معین شوې مودې تېرېدل یوه له مهمو اساسي موضوعاتو څخه ده چې د دعوی طرفین مکلف کوي چې خپل حق او دعواوې په خپل ټاکل شوي وخت کې وغواړي ، خو ستونزه دا ده چې له یوه پلوه زموږ زیات شمیر هیوادوال او لوستې خلک په دی برخه کې کافي معلومات نه لري، محاکم چې د مرورزمان وروسته د خلکو دعواوې وانه وري نو بیا ډیری خلک وایي چې د نظام او دولت خصوصاً د قضاء نظام ظالم او د حق پټونکی ګڼي، همدا ډول ځینې قضات په دی برخه کې کافي معلومات نه لریاو د مرورزمان موده ورته یوازې د خپل مشر د فرمان او حکم په حیث اهمیت لري خو خپله په دی برخه کې نور معلومات نه لریاو په ضرورت یي نه پوهیږي چې د دېموضوع په لیکنې سره به یاده ستونزه حل شي.

## د څېړنې تګلاره

د موضوع په لیکنه کې مو لاندې تګلاره غوره کړې ده:

۱. د قران کریم ایتونه په سورت او ایت نمبر سره څرګند شوي دي او ژباړه یي روانه پښتو ژبه کې شوې ده.

۲. د موضوعاتو د استدلال له پاره د قران کریم ، احادیثو د فقهاؤ اقوال او مؤثق دلایل راوړل شوي دي.

۳. د هر عالم او فقیه قول په پوره امانتدارۍ سره همغه شخص ته منسوب شوی دی .

۴. په موضوعاتو کې اختلاف د دلایلو په بناء څرګند شوی او راجح قول پکې ذکر شوی دی.

۵. د افغانستان قوانینو نه ګټه اخیستل شوې ده اړوند موضوعات له قوانینو څخه په ماده وار شکل اخیستل شوي دي کوم ځایونه چې څرګنداوي او تحلیل ته اړتیا لري د هغې تحلیل او څرګنداوی شوی دی

**مناقشه**

**د تقادم لغوي معنا**

تقادم چې اصل يې ق د م دی، په لغت کې د مخکښني او سابق په معنا سره دی. عربان وايي (شئ قديم) يعنې هغه شی چې په هغې باندې زيات وخت تېر شوی وي د قديم اطلاق په مرورزمان باندې کيږي چې د حادث او نوي واقع کيدو ضد دی.(ابن منظور، ( ۱۴۱۴ه) ج۱۲، ص ۴۶۵).

تقادم يا مرورزمان په اصطلاح کې: په يو شي باندې اوږدې مودې تېرېدو ته ويل کيږي.

تقادم الدعوی يا د دعوې مرورزمان دی ته وايي، چې په دعوې باندې اوږده موده تېره شي (چې نظام ټاکلي وي) او حق لرونکی شخص يې بالکل حرکت ونه کړي.

شيخ عبدالقادر عوده مرورزمان داسې تعريفوي: د هغه ټاکلې مودې تېرېدل چې مجازاتو باندې پکې حکم ونه شي يا هم حکم تنفيذ نه شي د همدې ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته نه شي تنفيذ کېدای.

بل تعريف: مرورزمان هغه موده ده چې وروسته ترې دعوی نه اورېدل کيږي او نه هم مجازات تنفيذ کيږي.(عوده، وفات (۱۳۷۳) ، ج ۱، ص ۷۷۸).

يا هم مرورزمان هغه موده ده چې قاضي يي له تېرېدو وروسته دعوی نه شي اوريدلی او د دې اندازه به حاکم ټاکلې وي او د مدعي له پاره به کوم عذر هم نه وي.

سليم رستم باز د مرورزمان تعريف داسې کوي: د ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته د دعوې نه اوريدل دي.

غوره تعريف د مرورزمان داسې کيږي چې:

مرورزمان يا تقادم الزمان عبارت د جرايمو او جزاګانو له پاره د حاکم له خوا ټاکل شوې موده ده چې پرته له عذره دهغې مودې له تېرېدو وروسته حکم او تنفيذ د حکم نه کيږي.(سلمي، (۲۰۱۳ ) ص ۳۲).

مرورزمان يا د جرايمو وي يا د جزاګانو، چې موږ جرايم د اسلامي فقهې له نظره په لاندې ډول بيانوو:

د اسلامي فقهې له نظره جرايم په درې ډوله دي : حدود ، قصاص او تعزيرات

حدود هغه دی چې ټاکل شوي مجازات ولري او حق الله وي.

قصاص هغه دی چې ټاکلې مجازات ولری او حق العبد وي.

او تعزيرات هغه دی چې ټاکلي مجازات نه لري د حق الله او حق العبد دواړو له پاره وي يعنې د حق الله او حق العبد د رعايت په موخه وي .

په تعزيراتو کې مرورالزمان: د تعزيراتو له پاره مرورزمان کې هيڅ اختلاف نشته؛ ځکه د تعزيراتو ټاکل او په هغې کې زياتوالی او کموالی د امام او حاکم صلاحيت دی نو د مرورزمان ټاکل هم کولای شي؛ ځکه تعزيرات اصلاً د مصلحت په موخه دي نو په همدې اساس فقهاوو هم د تعزير په هکله د تقادم يا د مرورزمان د اختلاف بحث نه دی

کړی؛ ځکه د مصلحت په اساس ورکول کیږي او د مصلحت په اساس لری کیدای هم شي.

په قصاص کې مرورزمان:په قصاص کې مرورزمان او تقادم الزمان هیڅ اثر نلری ځکه قصاص د بنده حق دی او دا حق نه ساقط کیږي مګر په صلحې ، عفوه او ابراء باندې.

**په حدودو کې مرورالزمان**

د فقهاؤ دوه قوله دي:

اول قول: جمهور علماء (مالکي، شوافع، ظاهريه، او يو معتمد قول د حنابله وو) دوې وايي چې د زماني تېرېدل د حدودو د اقامه کيدو مانع نه شي کيدای ، که ګواهي وروسته شي او موده پرې تيره شي نو د قبول مانع نه شي کيدای ځکه حق خبره که وروسته هم وشي سمه ده، باطليږي نه.(ابن فرحون، (۱۹۸۶م ) ج۵، ص ۵۰،) أنصاري ، أسني المطالب، ج۴، ص۱۳۲، بهوتي، (۱۹۸۲م.) ج۶ ، ص۲۱۲، ) ابن حزم، المحلي، ج۱۳، ص ۴۶).

د اول قول دلايل

الله جل جلاله په قران کريم کې فرمايي (والذين يرمون المحصنات ثم لم يأتوا بأربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة) (سورت النور/ايت ۴)

ژباړه: هغه خلک چې په پاك لمنو مېرمنو تور لګوي بيا څلور ګواهان حاضر نه شي کړای پس ووهئ هغوی اتيا دورې.

په دی او ديته ورته نورو ايتونو کې د شهادت ذکر راغلی دی او تر يوې مودې پورې يي ندی ټاکلی؛ نو هر کله چې شاهدان شاهدي ورکوي حد به تطبيق کيږي.

۱. شهادت او اقرار باندې هر وخت حد ثابتیږي دوې قیاس په دی کوې چې لکه څرنګه په شهادت او اقرار باندې اموال او وینه ثابتیږي دا ډول حد هم پرې ثابتیږي هیڅ توپیر نلري.

۲. اصل د شهادت او اقرار په قبول والی کې رښتیا ده، کله چې په رښتوني ډول شاهدي ورکړي یا هم په رښتیا سره اقرار وکړي؛ نو تأخیر او مخکې والی پکې هیڅ اغېزنه لري، خو چې شاهدان عادل وي او اقرار کوونکی اهل د اقرار وي.

بل دلیل دا نیسي چې د حدودو د اثبات له پاره یا اقرار او یا هم شاهدان دي او اقرار کې وروسته والی اغېزنه کوي نو په شهادت کې هم باید اغېزونکړي.

بل دا چې په اسلامي شریعت کې داسې کوم نص هم نشته چې هغه دلالت په دی وکړي چې حدود دی په مرورزمان سره ساقط شي او لکه مخکې چې مو وویلې شاهدان او اقرار عام راغلی نو عموم یي همدا دی چې هر وخت شاهدانو شاهدي ورکړه یا هم مقر اقرار وکړ؛نو حد به تطبیق شي.

دوهم قول: د احنافو دی دوی وایي که چېرته د حدودو اثبات د حاکم په وړاندې د مرورزمان مودې وروسته شي نو د حکم د تنفیذ مانع دی؛ ځکه شبهه حد ساقطوي او دلته د اثبات ځنډول شبهه رامنځ ته کوي دوی وایي که چېرته حد د شاهدانو په واسطه ثابت شو او ډیره موده تیره وه نو حد ساقط دی او که چېرته د اقرار په واسطه ثابت شوی وو نو بیا حد نه ساقط کیږي.(سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹، مرغیناني، الهدایة، ج۴، ص ۱۱۵، ابن قدامه، (۱۴۱۹م.) ج۱۲، ص۱۱۲).

د دویم قول دلایل: مخکې موږ ذکر کړه، چې احناف وایي که چېرته حد په شاهدانو باندې ثابت و؛ نو که موده تېره وه حد نه ثابتیږي او که چېرته په اقرار سره ثابت وي که تاخیر هم وي او موده هم تیره شي بیا هم حد نه ساقط کیږي او اساس یي عبدالقادر

عوده په خپل کتاب التشریع الجنایي کې ذکر کړی دی، چې د احنافو له نظره د شاهدۍ له پاره شرط ده چې په وروسته والي سره به نه ورکول کیږي او د دې نه یوازې د قذف جرم استثناء کوي او هغه ځکه چې د قذف جرم کې ترڅو چې شخص شکایت نه وي کړی حد یې نه تطبیق کیږي نو په همدې اساس مخکې د شکایت نه شاهدي هم معنا نه لري نو که چېرته وروسته شکایت وشو شاهدان هم وروسته کولای شي چې ګواهي ورکړي.

بل دلیل احناف دا نیسي چې شاهد اختیار لري، که ګواهي یې ورکړه نو د الله جل جلاله د رضاء په موخه یې دا کار وکړ الله جل جلاله فرمایی (وأقیموا الشهادة لله)(سورت طلاق/ ایت ۲)

ژباړه: شاهدي د الله جل جلاله له پاره اداء کړئ.

او دا اختیار هم لري، چې شاهدي ونه وایي پرده پوشي وکړي نو که چېرته شاهدي اول ونه وایي پرده پرې واچوي وروسته د وخت په تېرېدو شاهدي ورکړي معنا یې داده، چې د قصد او حسد په اساس یې وایي نو دا یو تهمت پیدا کیږي او کله چې په شاهدۍ کې اتهام پیدا شي دا د حد د اثبات له پاره شبهه ده او حد په شبهو سره ساقطیږي.

د احنافو رایه دعمر رضي الله عنه د قول نه هم تائید کیږي هر قوم چې په حد باندې شاهدي ورکړي لیکن سمدستې نه وي؛ نو د ده شاهدي د قصد او کینې په اساس ده.

او وایي چې د عمر رضي الله عنه د دې وینا مخالفت هیڅ صحابي ندی کړی نو په دی باندې اجماع هم ده اصلاً د عمر رضی الله عنه د وینا نه داسې معلومیږي چې په شاهدۍ کې اتهام موجود شي سمه نه ده او د متهم شخص شاهدي سمه نه ده ځکه رسول الله

صلی الله عليه وسلم فرمايي (لا تجوز شهادة خصم ولا ظنين))(بيهقي ۱۹۹۱م ج۱۶، ص ۶). ژباړه: شاهدي د خصم او متهم شخص جواز نلري.

د احنافو د رايي لنډيز دادی، چې تعزيرات په مرورزمان سره ساقطيږي، کله چې د حاکم له خوا ورته موده وټاکل شي ، او حدود هم بې له قذف نه که چېرته د شاهدۍ په اساس ثابت وي اومرورزمان نه وروسته شاهدي ورکړي ساقط دی او که چېرته اقرار وي وي؛ نو يوازې د شرابو حد به په مرورزمان سره ساقطيږي او نور نه ساقطيږي دا نظر د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهماالله دی.

که حدود په شاهدانو باندي ثابت وه او مرورزمان موده تيره شوه؛ نو حد نه تطبيق کيږي ساقط دی او که چېرته په اقرار ثابت وه؛ نو بيا نه ساقطيږي، ليکن که د شرابو حد وي؛ نو هغه د وخت په تېرېدو سره په اقرار هم نه ثابتيږي او ساقط به وي، ځکه کله چې شاهد سکوت وکړي او يوه موده وروسته شاهدي ورکوي احتمال د دې لري چې شاهد ورسره مخالف وي نو دا تهمت دی يا هم د حسد په اساس يي کړی وي دا شک دی او حدود په شبهاتو او شکونو سره ساقطيږي؛ نو ځکه به د شاهد شاهدي نه قبليږي ، شاهد دوه کارونه ترسره کوي : يو دا چې شاهدي نه ورکوی پرده پوشي کوي حديث شريف هم دی ((من ستر مسلما ستره الله يوم القيامة))(ترمذي، ۱۹۹۸ م ج۲، ص ۴۴۰). ژباړه: څوک چې په يو مسلمان باندې پرده واچوي الله جل جلاله به د قيامت په ورځ په ده باندې پرده واچوي.

يا به ګواهي ورکوي د دې په لپاره چې فساد ختم کړي نو په ده باندې يو کار د دې دوه وو نه واجب دی او او دا اختيار فورا لري ځکه که پرده پوشي کوي هم همدا اوس به يې کوي او که د فساد مخه نيسي هم همدا اوس به يې نيسي تاخير پکې سم ندی.

دوهم دلیل یي دا هم دی، چې کله شهادت وروسته اداء شي یو ډول اتهام دی او اتهام شبهه رامنځ ته کوي او حدود په شبهاتو سره دفع کېږي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (ادرؤوا القتل والجلد عن المسلمین ما استطعتم)(ابن ابي شیبه، ۱۴۰۹ ه ج۲۲، ص ۴۹۵). ژباړه: ترخو پورې مو چې وس او توان وه د مسلمانانو نه قصاص او په درو وهل دفع کړئ.

راجح نظر: راجح نظر زما په نظر د احنافو دی او هغه دا چې که چېرته حدود په شهادت باندې ثابت وي او یوه معلومه موده تیره شي نو بیا دعوی نه اورېدل کېږي ځکه کله چې په شاهدانو کې اتهام موجود شي نو فساد رامنځ ته کوي.

او داچې جمهور علماء حدود په نورو حقوقو باندې قیاس کوي، یعنې وایي لکه څرنګه چې نور حقوق د وخت په تېرېدو سره په شاهدانو باندې ثابتیږي دا ډول حدود هم ثابتیږي دا قیاس صحیح ندی دا قیاس مع الفارق دی ځکه حدود په شبهاتو سره دفع کیږي لیکن نور حقوق په شبهاتو سره نه دفع کیږي.

همدا ډول جمهور علماء شهادت په اقرار باندې قیاس کوي هغه داسې چې د وخت تېرېدو وروسته اقرار سره دعوی اوریدل کیږي؛ نو باید په شاهدانو باندې هم اثبات شي او دعوی واوریدل شي لیکن دلته هم قیاس صحیح ندی دا قیاس مع الفارق دی او هغه ځکه اقرار که څومره وروسته شي په خپل نفس باندې وي نو اتهام نشته لیکن شاهدان چې وروسته شاهدي ورکوي او اول یي نه ورکوله یو ډول اتهام رامنځ ته کیږي.

**د حد په اقرار ثبوت او د مرورالزمان اغیزې**

احناف وایي که چېرته حد په اقرار باندې ثابت شي؛ نو مروزمان پرې هیڅ اغېزنه لري او هغه ځکه چې اتهام نشته نه د دښمنۍ او نه هم دا اتهام چې څوک تجاوز وکړي په خپل نفس.

په دی کې دوه قوله دي:

اول قول: د شرابو له حد نه پرته نور حدود که په اقرار باندې ثابت شي نو مرورزمان هيڅ اغېزپرې نه لري، ليکن که چېرته د شرابو حد په اقرار ثابتيږي او مقر د شرابو د بوی له ختميدو وروسته اقرار وکړي؛ نو اقرار يي سم نه دی او حد نه تطبيقيږي دا قول د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله دی(سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۷۰-۶۹، ابن قدامه، (۱۴۱۹م.) ج۱۰، ص ۳۳۲، ) ، او دليل يي د ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل شوی روايت دی چې فرمايي(روی عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه أنه قال في رجل سکران جيئ به اليه تر تروه، ومزمزوه، واستنکهوه، فاذا وجدتم رائحة الخمر فاجلدوه)).(هيثمي، ۱۹۸۸ م ، ج۱۴، ص ۶۷).

دا حديث دليل په دې دی، چې حد د شرابو هغه وخت ثابتيږي کله چې اقرار وکړي او بوې د شرابو موجود وي ليکن که چېرته بوي يي موجود نه وي او اقرار وکړي نو اقرار سره يې د شرابو حد نه ثابتيږي .

دويم قول: ټول حدود چې په اقرار باندې ثابت شي مرورزمان هيڅ اغېزپرې نه لري دا قول د امام محمد رحمه الله دی (سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۷۰-۶۹) او دلايل يي دادي:

۱: اقرار کې اتهام نشته او شخص په ځان ظلم نه کوي، دا خبره په ټولو حدودو کې ده نو کله چې خپله يو شخص اقرار کوي نو دا د اتهام نه خالي دی هيڅ ډول ستونزه نشته.

۲: د شرابو د حد د تطبيق له پاره اثر د فعل شرط نه دی لکه د زنا او غلا له پاره چې شرط نه دی؛ نو که چېرته بوی نه وه موجود او اقرار يي وکړ حد پرې تطبيق کيږي؛ ځکه کله کله کېدای شي يو شخص خوراک کړی وي او معدې نه يي خراب بوې

لکه د شرابو په څير پورته شي د دې معنا دا نه ده چې شراب يې څکلي او حد دې پرې تطبيق شي؛ نو بالعکس د تطبيق له پاره يې هم د شرابو بوې اړين نه دي.

راجح نظر د امام محمد رحمه الله دی؛ ځکه انسان په ځان ظلم نه کوي او اتهام نشته او د ابن مسعود رضي الله عنه روايت دا وايي چې هغه په هغه صورت کې چې شاهدان او اقرار نه وي نو د قريني په ډول د خولې بويول هم شته .

## د حدودو په مجازاتو کې د مرورالزمان اغيزې

که چېرته حدود ثابت شي او محکمه حکم وکړي، خو حکم تنفيذ شوی نه وي؛ نو په دې صورت کې مرورزمان د حکم په تنفيذ اثر کوي او کنه، همدا موضوعات په دی ځای کې تشريح کيږي البته حد به يا په شهادت ثابت وي يا هم په اقرار سره هر يو يې په تفصيل سره په لاندې ډول تشريح کيږي:

## د اقرار په واسطه د ثابت شوي حد د مجازاتو د تنفيذ مرورزمان

که چېرته په يو شخص باندې حد د اقرار په واسطه ثابت شي او د قاضي په وړاندې اقرار وکړي قاضی د حد د اقامې حکم وکړي خو حد اقامه نه شي هيڅ ډول شرعي عذر هم موجود نه وي نو په دی صورت کې که مقر له خپل اقرار څخه رجوع وکړي ايا رجوع له اقرار څخه اعتبار لري او کنه؟

کله چې حدود په اقرار سره ثابت شي او وروسته مقر له اقرار څخه رجوع وکړي او حد نه وي تطبيق شوی نو رجوع يې د حد د اسقاط سبب کيږي يعنې حد ساقط کيږي البته دلته فقط د حد د اقامې مخکې که رجوع صورت ونيسي نو حد به نه اقامه کيږي که لږ وخت تير شوی وي او که زيات ، خو يوه استنثناء شته او هغه دا چې که چېرته د قذف حد په اقرار ثابت وو او مقر د اقرار څخه رجوع وکړي نو حد نه ساقط کيږي

دا د احنافو ، مالکي علماؤ شوافعو او حنابله وو نظر دی.( سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹، مرغيناني، الهدايۀ، ج۴، ص ۱۱۵، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج۴، ص ۱۱۵، کاساني، ۱۴۱۳م، ج۷، ص ۴۶، ابن فرحون، (۱۹۸۶م ) ج۲، ص ۵۰، شربيني، ۱۹۸۷م، ج۴، ص ۱۵۱، ماوردي ، ۱۳۷۶ه ، ج۱۳، ص ۲۲۹، بهوتي، (۱۹۸۲م.) ج۶، ص ۲۰۱۲، ابن قدامه، ۱۴۱۹م ، ج۹، ص ۷۰).

**دلايل يي**

هغه حدود چې په شهادت باندې ثابت وي او تنفيذ نه شي د مرورزمان اثار:

که چېرته په يو شخص باندې د شاهدانو په واسطه حد ثابت شي او په اقامه کولو د حد کې وروسته والی راشي او اقامه نه شي او هيڅ ډول شرعي عذر هم موجود نه وي نو ايا جزاء يي ساقطيږي او که نه؟

**په دی هکله د فقهاوو ده قوله دي:**

اول قول: که چېرته حدود په شهادت سره ثابت وه او تنفيذ باندې يي مرورزمان تير شي نو دا مرور زمان په شاهدۍ باندې اغېزکوي او حد ساقطوي دا د احنافو نظر دی.( کاساني، ۱۴۱۳م، ج 7، ص 61، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج۴، ص ۱۹۹، مرغيناني، الهدايۀ، ج۴، ص ۱۶۴، سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹)

دويم قول: حدود چې کله په شاهدۍ ثابت شي او تنفيذ باندې يي مرورزمان تير شي نو اصلاً په شاهدۍ باندې مرورزمان اغېزنه کوي او حد نه ساقط کيږي دا نظر د مالکيه ، شوافعو، حنابله وو او له احنافو څخه د امام زفر رحمهم الله دی.(ابن رشد، ۱۹۹۵م. ج۲، ص ۴۲۹، نووي، ۱۴۰۶هـج۱۰، ص ۹۶، انصاري، أسني المطالب، ج۴، ص ۱۶۳، شربيني، ۱۹۸۷م، ج۴، ص ۱۵۱، ماوردي ، ۱۳۷۶ه ، ج ۱۳، ص ۲۳۰، بهوتي، (۱۹۸۲م.)

ج۶، ص ۲۰۱۲، ابن الفلح، ۱۴۰۸م ، ج۹، ص ۸۳، ابن قدامه، (۱۴۱۹م.) ج ۹، ص ۷۰، کاساني، ۱۴۱۳م، ج۷، ص ۶۱، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ص ۱۹۹).

**د اول قول دلایل**

اول: حدود د قاضي له حکم وروسته قاضي مکلف دی، چې هغه تطبیق کړي ځکه په حق الله کې قاضی نائب دی او تطبیق یي په غاړه دی نو کله چې د حقوق الله اثبات سم وشي او شبهه پکې نه وي؛ نو قاضي به یي تطبیق کوي؛ ځکه تطبیق د قضاء وظیفه ده او د حدودو د تطبیق له پاره شهادت شرط دی چې په مرورزمان سره شهادت باقي نه پاتې کیږي؛ نو دا چې شهادت د وخت په تېرېدو سره له منځه ځی؛ نو حد چې د شهادت په اساس ثابت وي نه تطبیق کیږي او ساقط به شي.( ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج۴، ص ۱۴، سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹) ابن عابدین، ۱۹۷۹م، ج۴، ص ۱۶۴).

دویم دلیل: قضاء اصلاً شاهدي ده لیکن شاهدان د تنفیظ صلاحیت نه لریاو قاضي د تنفیذ صلاحیت لري یعنې قضاء او شاهدي سره یو شان دي نو کله چې د قضاء او شاهدۍ ترمنځ رابطه یووالی دی؛ نو کله چې شاهدي وروسته شي حد پرې نه ثابتیږي په همدې اساس که چېرته د قضاء د حکم تطبیق وروسته هغه هم نه تطبیق کیږي(سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹).

**د دویم قول دلایل:**

جمهور فقهاء چې مالکي ، شوافع ، حنابله دي دوي وایي که چېرته حد په شاهدۍ باندې ثابت وو او تنفیذ یي وځنډیږي نو دا ځنډېدل یي په شهادت باندې هیڅ اغېزنه کوي او حد نه ساقطیږي، دوې وایي په جرایمو کې مرورزمان د حد د اثبات او تطبیق له پاره هیڅ اغېزنه لري؛ نو کله چې اثبات په حدودوکې که چېرته تاخیر شي او

مرورزمان پرې تیر شي اغېزنه لري؛ نو په تطبیق کې که وځنډیږي په طریق اولی اغېزنه لري.

## راجح نظر

زما په نظر په لاندې دلایلوسره راجح او غوره نظر د احنافو دی

اول: حدودو کې باید د احتیاط نه کار واخستل شي او احتیاط په دی کې دی چې یوه وړه شبهه او غلطي هم پیدا کیږي باید تطبیق نه شي.

دویم : حدیث شریف دی چې : امام که چېرته په جزاء ورکولو کې خطاء کیږي د دېنه دا غوره ده چې په عفوی کې خطاء شي، د دې نه هم معلومیږي چې د حدودو د تطبیق له پاره چې یوه لاره کیږي تطبیق دی نه شي.

درېیم: معلومه خبره ده، چې کله د حد تطبیق باندې مرورزمان تیر شي؛ نو که حد د شاهدئ په اساس ثابت وي ممکن چې په شاهدانو کې اهلیت له منځه لاړ وي او کله چې اهلیت د منځه لاړ شي؛ نو شاهدي یې نه صحیح کیږي او چې شاهدي صحیح نه شي حد ساقط کیږي.

څلورم: حدیث شریف کې راځی چې: حدود په شبهاتو سره دفع کړئ، د حدودو ځنډول او په هغې باندې د مرور زمان موده تیرول په خپله دلیل په دې دی چې شبهه شته، نو حد به ساقط کیږي.

## په حدودو کې د مرورالزمان موده

جمهور علماء وایي چې مرورزمان په حدودو کې هیڅ اغېزنه کوي او احناف وایي، چې مرورزمان په حدودو کې اغېزکوي او حد ساقطوي ، دا چې څومره موده کې

تطبیق نه شي بیا نه تطبیق کېږي یا هم مرورزمان یي ځومره دی په دی کې احناف د زنا ، غلاو شرابو په حدودو کې یو له بله توپیر کوي چې په لاندې ډول ځرګندیږي:

**په زنا او غلا حد کې د احنافو له نظره د مرورزمان موده**

**په دی کې احناف اختلاف لري او درې قوله دي:**

اول قول: په زنا او غلا حد کې د مرورزمان موده یوه میاشت ده دا قول د امام ابوحنیفه او د امام محمد بن حسن او امام ابویوسف رحمهم الله دي.(مرغیناني، الهدایة، ج ۵، ص ۲۸۲، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج ۴، ص ۶۴، سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج ۹، ص ۶۹، ابن عابدین، ۱۹۷۹م.ج۴، ص ۱۶۴).

دلیل یې دا دې، چې له یوې میاشت نه مخکې بیړه او مخکې والی دی او له دې وروسته تاخیر دی؛ نو کله چې له میاشتې نه زیات تاخیر وشي معنا دا چې حد نه تطبیق کوي.

دویم قول: د امام ابوحنیفه رحمه الله یو قول دا دې، چې مرورزمان موده ټاکل د قاضي صلاحیت دی او د اجتهاد د قاضي پورې اړه لري.( ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج ۴، ص ۶۴، سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹، ابن عابدین، ۱۹۷۹م.، ج ۴، ص ۱۶۴).

او دلیل یي دا دې چې مرورزمان د احوالو او ظروفو په اساس توپیر کوي همدا ډول زمانه او وخت توپیر کوي او د مروزمان ټاکلې موده په نص نه ده ثابته بلکې د مصلحت په موخه ده؛ نو قاضي د اجتهاد په اساس مصلحت ته ګوري او د مروزمان موده ټاکي.( سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج۹، ص ۶۹).

دريم قول : يو قول د امام ابوحنيفه رحمه الله دا دی، چې د زنا او غلا په حد کې د مروزمان موده يو کال ده.مرغيناني، الهدايةٌ، ج۵، ص ۲۸۲، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج۴، ص ۱۶۴).

**د شرابو په حد کې د مرورالزمان موده:**

د شرابو د حد د مرورزمان موده کې له احنافو څخه دوه قوله راغلي دي:

اول قول: د شرابو په حد کې که چېرته له خولې څخه بوې ختم شي او بوې ونه لرينو که چېرته اقرار وکړي او که شاهدان وي حد نه تطبيق کيږي يعنې که دومره موده تيره شوه چې د خولې څخه يي بوی ختم شو نو حد ساقطيږي دا د امام ابوحنيفه او ابويوسف رحمهما الله قول دی.( سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج ۹ ، ص ۶۹، ابن عابدين ، ۱۹۷۹م.ج ۳، ص ۱۴۴. کاساني، ۱۴۱۳م ، ج ۷، ص ۶۱، ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج ۴، ص ۱۹۹، المرغيناني، الهدايةٌ ، ج ۴، ص ۱۶۴)

دويم قول: د شرابو د حد او د نورو حدودو توپير نشته که چېرته حد د شهادت په اساس ثابت وه او يوه مياشت پرې تيره شوه او حد تطبيق نه شو نو حد ساقطيږي او که چېرته د اقرار په اساس ثابت وو نو په هغې کې مرورزمان نشته هرکله چې شخص اقرار وکړي نو حد به پرې تطبيق کيږي دا قول د امام محمد بن حسن دی.( سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج ۹ ، ص ۶۹، ابن عابدين ، ۱۹۷۹م.ج ۳، ص ۱۴۴)

د اول قول دلايل: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته يو کس راوستل شو او ويې ويل چې شراب يي څکلي، نو هغه وويل که چېرته د شرابو بوې موجود وه په درو يي ووهئ. ابن ابي شيبه، ۱۴۰۹ ه ، ج۱۰، ص ۳۷).

دا دلیل په دې دی که چېرته شخص شراب څکلي وه او خولې یي بوی کاوه؛ نو حد به پرې تطبیقیږي او که چېرته د بوی د ختمیدو وروسته شاهدانو شاهدي وویله یا یي اقرار وکړ نو حد به پرې نه تطبیق کیږي.

د دویم قول دلیل: امام محمد بن حسن رحمه الله وایې که چېرته په اقرار ثابت وه؛ نو مرورزمان پرې هیڅ اغېزنه کوي؛ ځکه مرورزمان اصلاً یو ډول اتهام دی، چې ولې ځنډیدلی، لیکن کله چې یو شخص په خپل نفس باندې اقرار کوي؛ نو هیڅ ډول اتهام نشته نو دا هم د نورو حدودو په څېردی که چېرته د فعل اثر موجود هم نه وي نو حد به تطبیق کیږي.( ابن الهمام، ۱۳۱۶هـ ، ج۴، ص ۱۶۴، ( سرخسي، (۱۹۹۶م.) ج ۹، ص ۱۷۱).

**راجح نظر**

زما په نظر د امام محمد بن حسن رحمه الله نظر غوره دی؛ ځکه کله چې یو شخص په ځان باندې اقرار کوي؛ نو دلته هیڅ ډول تهمت نشته او شخص په خپل اقرار باندې نیول کیږي هم؛ نو هر کله چې اقرار وکړي او د اقرار څخه یي رجوع نه وي کړي نو حد به پرې تطبیقیږي.

**د قانون له نظره د جزایي دعوی مرورزمان**

دا چې زموږ موضوع د جزایي دعوی مرورزمان ده او د مرورزمان د دعوی له شکلیاتو څخه دي، نو په همدې اساس د جزایې اجراأتو قانون چې شکلي قانون دی د جزایي دعوې د پروسیجر څخه بحث کوي دا موضوع روښانه کړېده ، البته د یادونې وړ ده چې دافغانستان جزایي قوانین له تعزیراتو څخه بحث کوي؛ نو مرورزمان یوازې د تعزیراتو دی او د حدودو په هکله د افغانستان جزاء کود داسې صراحت لري چې د حنفي فقهې مطابق مجازات لري.

د جزايي اجراأتو قانون په اساس د جزايي دعوې مرورزمان دوه برخو ته شامل دی:

اول : د جرایمو مرورزمان

دويم: د جزاګانو مرورزمان

**په لاندې ډول هر يو د قانون په اساس تشريح کيږي:**

اول : د جرایمو مرورزمان : د جرايمو مرورزمان څخه هدف دا دی د قانون په اساس له ټاکل شوې مودې وروسته دعوی نه اقامه کيږي او محکمه دعوی نه اوري.

د دې له پاره چې د جرايمو مرورزمان باندې بحث وکړو د افغانستان جزاء کود جرايم د شدت او خفت له حيثه په درې ډوله تقسيم کړي دي :

اول : جنايت: هغه جرم دی چې د هغه جزا په دی قانون کې طويل حبس، دوه درجې دوام حبس، يوه درجه دوام حبس او يا اعدام ټاکل شوې وي.(جزاکود، ۳۱ماده)

دويم: جنحه: هغه جرم دی چې د هغه جزاء په دی قانون کې د حبس بديل، نقدي جزاء ، قصير حبس يا متوسط حبس ټاکل شوې وي.(جزا کود، ۳۰ ماده).

دريیم: قباحت: هغه جرم دی چې د هغه جزاء په دی قانون کې تر دېرش زرو افغانيو پورې نقدي جزاء ټاکل شوې وي.(جزاکود ، ۲۹ماده)

په پورته ډول د جزاء کود له نظره درې ډوله جرايم ذکر شول چې د جزايي اجراأتو قانون چې شکلی قانون دی د مرورزمان موده يې د هر يو جرم په لاندې ډول ذکر کړېده په دې هکله د جزايي اجراأتو قانون ۷۱ماده اوله فقره داسې صراحت لري: (جزايي دعوی او مجازات په لاندې حالاتو کې ساقط يا درول کيږي: ۱: د وخت تېرېدو (مرورزمان ) په حالت کې.

د پورته مادې په اساس جزایي دعوی د مرورزمان په اساس ساقطیږي او دعوی نه اوریدل کیږي، چې دغه د مرورزمان موده یوه د جرایمو ده او بل هم د مجازاتو چې د جرایمو یي په لاندې ډول ذکر کیږي(جزایي اجراتو قانون، ۷۱ماده).

د جرایمو مرورزمان یا هغه موده چې په جرایمو باندې تیره شي او دعوی اقامه نه شي بیا دعوی نه اقامه کیږي د جزایي اجراأتو قانون د ۷۲ مادې په اساس په لاندې ډول دی:

**دوه اویایمه ماده:**

(۱) جزایي دعوی د لاندې مواعیدو (مودو) له تېرېدو وروسته ساقطیږي:(جزایي اجراتو قانون، ۷۲ ماده).

۱. د جنایت جرم د ارتکاب په صورت کې ۱۰ کاله
۲. د جنحې د جرم د ارتکاب په صورت کې ۳ کاله
۳. د قباحت دجرم د ارتکاب په صورت کې ۱ کال.

د جزایي اجراأتو قانون د اولې فقرې په اساس که چېرته د جنایت جرم ترسره شي او لس کالو پوره دعوی اقامه نه شي نو وروسته له لس کالو څخه دعوی نه اقامه کیږي، همدا ډول د جنحې جرم کې درې کاله او د قباحت جرم کې یو کال که چېرته تېر شي او دعوی اقامه نه شي وروسته له هغې دعوی نه شي اقامه کیدای.

د مرورزمان نېټه د جزایي اجراأتو قانون د ۷۳ مادې په اساس په لاندې ډول محاسبه کیږي: (جزایي اجراتو قانون ، ۷۳ ماده).

په اعتیادي جرایمو کې کله چې رووړدي کېدل منځ ته راوړي.

په متوالي او استمراري جرایمو کې د وروستي جرمي عمل د پېښېدو له نېټې.

د اختلاس او تزویر جرایمو کې د جرمي پېښې د کشف له نیټې

او په نورو جرمونو کې د جرم دارتکاب له نېټې څخه د مرورزمان موده محاسبه کېږي.

دویم : د جزاګانو مرورزمان:

که چېرته محکمه حکم وکړي او په جزاګانو باندې وخت تېر شي او تطبیق نه شي دا جزاء چې محکمې حکم پرې کړی د مرورمان لاندې راځي او نه شي تطبیق کیدای.

مخکې له دې چې د قانون په اساس د جزاګانو مرورزمان باندې بحث وکړو لومړی جزاګانې پیژنو:

د جزاکو د له نظره جزاګانې درې ډوله دي: اصلي، تکمیلي او تبعي جزاګانې (جزاکود ۳۶ماده)

اصلي جزاګانې هغه دي چې په دې قانون کې د جرم د ارتکاب له پاره پیشبیني شوې وي (جزاکود ۱۳ماده)

اصلي جزاګانې په درې ډوله دي نقدي جزاء، حبس، اعدام ( جزاکود ۱۳۸ماده)

د جزاګانو مرورزمان د جزایي اجراأتو قانون په اساس په اعدام او حبس مجازاتو کې وي په نقدي جزاء کې یي د مرورزمان یادونه نه ده کړې معنا دا چې په نقدي جزاء کې د محکمې حکم په کومې مودې پورې مشخص ټاکلی نه دی هر وخت به حکم تطبیقیږي.

اعدام او حبس دواړه هغه جزاګانې دي، چې مرورزمان پرې اغېزکوي او د ټاکل شوې مودې د تېرېدو وروسته نه شي تطبیق کیدای، اعدام د شخص وژل او د روح ایستل دي یا هم د ژوند خاتمه ده او حبس په هغه ځاکې د محکوم علیه زنداني کول چې د

همدې له پاره مشخص شوي وي، البته حبس بيا ډولونه لري چې په لاندې ډول يې يادونه کېږي:

د جزاکود د ۱۴۶ مادې په اساس حبس په پينځه ډوله دی:(جزاکود ، ۱۴۶ماده).

۱. قصير حبس
۲. متوسط حبس
۳. طويل حبس
۴. ۲ درجه دوام حبس
۵. ۱ درجه دوام حبس

پورته د حبس ډولونه دي، چې د هريو موده د جزاء کود د ۱۴۷ مادې په اساس په لاندې ډول ده:(جزاکود، ۱۴۷ماده).

۱- قصير حبس له درې مياشتو څخه تر يوکال پورې
۲- متوسط حبس له يوه کال څخه زيات تر پينځو کالو پورې
۳- طويل حبس پينځه کالو زيات تر شپاړلس کالو پورې
۴- ۲ درجه دوام حبس له شپاړلسو کالو څخه زيات تر شلو کلونو پورې
۵- ۱ درجه دوام حبس له شلو کلونو څخه زيات تر ديرشو کلونو پورې.

اوس د جزاګانو مرورزمان د جزايي اجراأتو قانون په اساس په لاندې ډول ذکر کېږي:

په دی هکله د جزايي اجراأتو قانون ۷۶ ماده داسې صراحت لري:

محکوم بها مجازات د حکم د صادرېدو له نېټې څخه دلاندې مواعيدو له تېرېدو وروسته ساقطيږي:

۱: د اعدام مجازات د (۲۵) کالو مودې له تېرېدو وروسته.
۲: د دوام حبس مجازات د (۲۰) کالونو مودې له تېرېدو وروسته
۳: د اوږده حبس مجازات د (۱۰) کالونو تېرېدو وروسته
۴: د متوسط حبس مجازات له (۳) کالونو مودې تېرېدو وروسته
۵: د لنډ حبس مجازات د(۱) کال مودې تېرېدو وروسته.

همدا ډول د جزاګانو د تطبیق وروسته د قانون په اساس شخص کولای شي، چې بیرته خپل حیثیت اعاده کړي، چې د حیثیت د اعادې له پاره هم په قانون کې ټاکل شوې موده ذکر ده مخکې له هغې نه شي کولای چې د حیثیت اعاده وکړي په دی هکله د جزایي اجراتو قانون ۳۶۴ماده داسې صراحت لري:

د حیثیت د اعادې غوښتنه د جرم د ډول له په پام کې نیولو سره په لاندې مواعیدو (وختونو) کې صورت مومي:

۱ : د جنایت په جرم کې د حکم د تنفیذ پای ته رسېدو د مجازاتو د عفوې له نېټې(۶) کلونو تېرېدو وروسته.
۲: د جنحې په جرم کې د حکم د تنفیذ د پای ته رسیدو یا د مجازاتو د عفوې له نېټې څخه د (۳) کلونو مودې تېرېدو وروسته.
۳: متکرر مجرمین د پورته مودو په دوه چنده مودې تېرېدو سره د حیثیت اعاده کولای شي.

**پایله**

د جزایي دعوې د مرورزمان موضوع کې له لیکنې وروسته لاندې پایلې ترلاسه کیږي:

۱: د جزایي دعواوې د عامه مصالحو تأمین په موخه اقامه کیږي.

۲: د دعوې د اقامې له پاره یوې مودې او وخت ته ضرورت دی ځکه محاکم د ټولنې د مصالحو له پاره کار کوي او یو له مصلحتونو نه دا هم دی، چې باید د دعوی د اقامې له پاره موده مشخصه شي ترڅو په قضاء باندې د موضوعاتو د ډېروالي مخه ونیول شي او له بله اړخه د دعوې دواړه خواوې په اسانۍ سره دعوی ثابته کړي؛ ځکه که موده ډېره زیاته تیره شي نو بیا د دعوی اثبات د دعوی طرفینو له پاره ستونزمن کېږي.

۳: په اسلامي شریعت او د افغانستان په حقوقي سیستم کې مرور زمان ذکر دی البته په اسلامي فقه کې د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، خو راجح نظر د دلایلو په اساس همدا دی چې مصلحتاً د دعوې د اقامې له پاره حاکم یا د هغه نماینده کولای شي چې یوه موده وټاکي چې د هغې له تېرېدو وروسته به دعوی نه اوریدل کېږي.

۴: په اسلامي شریعت کې جرایم حدودو، قصاص او تعزیراتو ته تقسیمېږي بیا د دې هر یو د اثبات له پاره خپل دلایل دي مثلاً اقرار، شاهدان، او نور دلایل، چې په ټوله کې په ټولو کې برخو کې مرورزمان اغېزکوي.

۵: د افغانستان په حقوقي سیستم کې یي د مرورزمان له پاره دوه موارد ذکر کړي دي یو یې جزاګانې دي او بل یي هم جرایم دي چې د جزاګانو مرورزمان جلا او د جرایمو مروزمان جلا دې چې د موضوع په داخل کې تفصیلاً ذکر شوې دی.

۶: مرورزمان په اسلامي شریعت او افغانستان حقوقي سیستم کې یو منل شوی اصل دی.

**وړاندیزونه**

۱: دا چې په افغانستان کې الحمد لله اسلامي نظام دی، نو د اسلامي نظام مشرانو خصوصاً د قضاء د برخې منصوبینو ته مو وړاندیز دا دې چې د جزاګانو او جرایمو د

مرورزمان له پاره د اسلامي فقهې په رڼا کې یو واحد او منل شوی اصل ټولو محاکمو ته ولیږي ترڅو د قضاء په برخه کې اړونده مسؤلینو ته پوره روښانه لاره څرګنده شي.

۲: د ټولنې خلکو ته مو وړاندیز دا دې چې د قضا د مصلحت او د خپلو دعواوو د ښه اثبات په موخه یې پیدا شوې دعواوې په ټاکل شوې موده کې وړاندې کړي.

۳: محاکمو او قضاتو ته مو وړاندیز دا دې چې اولویتونو په نظر کې نیولو سره د خلکو ترمنځ دعواوې په خپل وخت حل وفصل کړي اود دې له پاره چې د محاکمو وخت ضایع نه شي ، خلك په ډېر جرأت د محکمې په وړاندې د خپل حق غوښتنه وکړي په ټوله کې باید نظام یو هر اړخیز میکانیزم د قضاتو د فیصلو او د هغوې د تطبیق په موخه ترتیب کړي ترڅو شخصي او نفسي غوښتنې پکې له منځه ولاړې شي.

**ماخذونه**


قران کریم

ابن ابی شیبة،( ۱۴۰۹ ه )حافظ عبد الله بن محمد بن أبي شیبة ابراهیم بن عثمان ابن أبي بسکر بن أبي شیبة الکوفي العبسي ، المصنف–ابن أبي شیبة، دار الفکر.

ابن حزم ظاهري،(بدون تاريخ) علي بن احمد بن سعيد بن حزم الاندلسي الظاهري، المحلی، المکتب التجاري للطباعة والنشر والتوزیع بیروت.

ابن همام ، ( ۱۳۱۶ه ) محمد بن عبدالواحد بن عبدالحمید بن مسعود السیواسي کمال الدین المعروف بابن الهمام ، شرح فتح القدیر ، دارصادر للطباعة والنشر ، الطعة الاولی ، بیروت .

ابن رشد، ۱۹۹۵م.أبوالوليد محمد بن أحمد بن محمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد ، دارالحديث، قاهرة .

ابن عابدين ، محمد امين، حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنويرالابصار، دارالفكر بيروت ، لبنان ، دوهم چاپ، ۱۹۷۹م.

ابن فرحون، تبصرة الحكام، دارالمعرفة بيروت.

ابن قدامه، موفق الدين أبومحمد عبدالله بن أحمد، المغني، دارعالم الكتب ، څلوم چاپ، ۱۴۱۹م.

ابن مفلح، برهان الدين أبواسحاق بن محمد بن عبدالله ، المبدع شرح المقنع، دارالكتب العلمية، بيروت ، اول چاپ، ۱۴۰۸م.

ابن منظور،(بدون نشر) محمد بن مكرم الأفريقي المصري ، لسان العرب، دار صادر – بيروت ، الطبعة الأولى.

السلمي ، عمربن الشريف بن موسى السلمى ، أثرالتقادم في اسقاط الحدود ، انترنت ، ۱۵/۶/۲۰۱۳ .

بهوتي، منصور بن يونس بن ادريس ، كشاف القناع، دارالفكر ، بيروت، دوهم چاپ، ۱۹۸۲م.

بيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن عبد الله بن موسى الخسروجردي، معرفة السنن والآثار للبيهقي

ترمذي،حافظ أبى عيسى محمد بن عيسى بن سورة سنن الترمذي وهو الجامع الصحيح ، دار الفكر للطباعة والنشر.

سرخسي، شمس الدين، المبسوط، دارالمعرفة بيروت، دوهم چاپ، ۱۹۹۶م.

شربيني، محمد بن محمد، مغني المحتاج الى معرفة معاني ألفاظ المنهاج، داراحياء التراث العربي، بيروت ، دوهم چاپ، ۱۹۸۷م.

عوده، عبد القادر ، التشريع الجنائي الإسلامي مقارناً بالقانون الوضعي، دار الكاتب العربي، بيروت.

كاساني، علاء الدين أبوبكر بن مسعود ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، مطبعة الامام، قاهرة، دوهم چاپ، ۱۴۱۳م.

ماوردي، علاء الدين أبوالحسن بن سليمان، الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف، اول چاپ، مطبعة السنة المحمدية، ۱۳۷۶هـ

نووي، محي الدين أبوزكريا يحيى بن شرف بن مري، المجموع شرح المهذب، دارلكتب العلمية ، لبنان، ۱۴۰۶هـ

هيثمي، حافظ نور الدين علي بن أبي بكر، مجمع الزوائد، ۱۴۰۸ ه . – ۱۹۸۸ م بيروت – لبنان